مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۸/۱۱/۰۸

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتريخوالي سونامي

### پنځمه برخه

**تاو تريخوالی لکه تندر له بل ځای ښخه نه را پريوزي، بلکې همدا ټولنه ده او همدا مشران دی چې له کوچنيانو او ماشومانو سره يې په پوهيدنه يا نه پوهيدنه کې، په رنګارنګ بڼو تر سره کوي.**

د ماشومانو او کوچنيانو په باب زما د کارونو او څېړنو په لړ کې ډېر لږ داسې پيښ شوي دي چې په ميډيا کې د ماشومانو او کوچنيانو په باب ما ته څه په مخه راغلي وي، او ما هغه د سند او د راتلونکو څېړنو د لا غنا په پار نه وي خوندي کړي. د همدې ساتلو او خوندي کولو په لړ کې مې په افغان جرمن آنلاين پورتال کې، له ماشومانو او کوچنيانو سره د ورځني تاوتريخوالي په باب يو کتاب (**په افغانو کورنيو کې د ماشومانو پر وړاندی ورځنی تاوتريخوالی**) له نظره تير شو او خوندي مې کړه.





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اوس غواړم چې د خپلو مقالو (د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي) په لړ کې، د یاد کتاب پر محتویاتو باندې خبرې وکړم او ځینې داسې برخې یې راواخلم چې له ماشومانو سره روان تاوتریخوالي په ښه وجه معرفي کوي او د مخنیوي لارې چارې یې ښیي.

په دوه زره دویم (۲۰۰۲م) کال کې، د نادولتي موسسو د فعالیت په چوکاټ کې «د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري» هم خپل فعالیت پیل کړ. دې اداري په افغانستان کې د کورنی ډینامیزم د بدلیدونکي طبیعت په هکله د څېړنې یوه پراخه پروژه پیل کړه، چې «په افغانو کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندی ورځنی تاوتریخوالی» یې یوه لاسته راوړنه ده.

دا ګزارش ډوله کتاب د یوې اوږدې څیړنې په پایله کې میرمن «دبیرا ج . سمیت» د هغو ریوټونو پر بنسټ لیکلی دی چې د څیرنیزې ډلې له لوري د افغانستان په څلورو ولایتونو (بامیان، هرات، کابل او ننګرهار) کې تر سره شوي وو او د «د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره» د څېړونو په لړ کې د اروپایي ټولنې په مالي لګښت د ۱۳۸۶ کال په سلواغي میاشت کې خپور شوی دی.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري په هکله:




د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره یوه خپلواکه څیړنیزه موسسه ده او مرکزي دفتر یې په کابل کې دی. د دغه سازمان دنده په لوړ کیفیت سره د څېړنو تر سره کول دي چې په پلان جوړونه او د هغه په پلي کولو کې لاربنود او ګټور وي. دغه اداره د څیړنې او زده کړې کلتور ته د څیرنیز ظرفیت د ځواکمن کولو او د نیوکو د آسانولو له لارې پرمختګورکوي.
د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري لرلید دا دي چې د هغه فعالیتونه د افغانانو ژوند ښه کړي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په دوه زره دویم (۲۰۰۲) کال کې د مرستندویه ټولنې پوسیله چې په افغانستان کې یې کار کاوه، تاسیس شوه او د بسپنه ورکوونکو هیوادونو، ملګرو ملتونو او نورو څو اړخیزه نمایندګیو، نادولتي سازمانونو (NGOs) د استازو څخه یې یو مدیره پلاویدرلود. د دغې اداري د هغه وخت بودجه، د اروپا د کمیسیون د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری، نړیوال بانك او د ډنمارك، سویس، ناروې، سویډن او انګلستان هیوادونو لخوا برابریده.
اوس د دې کتاب (په افغانو کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندی ورځنی تاوتریخوالی) د لیکوالې، دبیراجي سمیت په هکله:
**دیبرا جي سمیت** د افغانستان د څیړنې او ارزونې په اداره کې د جندر او روغتیا د څانګې د څېړنې لوړ رتبه امره ده د دوه زره شپږم کال (۲۰۰۶) د جنوری په میاشت کې، کله چې نوموړې په دغه اداره کې کار پیل کړ، له هغه مهال څخه را په دې خوا هغه یوه څیرنیز مقام کې کار کوي چې په هغه کې دودیزه قانون او د مناقشو د څېړنې ټولنیزی حل لارو؛ استازیتوب، په ولسی جرګه کې د ښځو د جندر ګټو؛ حکومتي وزارتونو کې د جندر پرمختګ؛ او د کورنیو د ډینامیزم او زور زیاتي څېړنې شاملې دي.
نوموړې مخکې له دې چې افغانستان ته راشي، د لندن د روغتنپالنې په ښوونځي او تراپکل هلت کې کار کاوه، چیرته چې هغې د روغتیایي پالسي څېړنه په مالاویاو او زمبیا کې تر سره کړه. نوموړې د لندن د اقتصاد او سیاسي پوهو له ښوونځي څخه دوکتورا لري، چې د دغه رتبې د ترلاسه کولو لپاره یې د هندوستان په راجستان ایالت کې د جندر مسایلو په هکله سیمه ییزه څیرنه تر سره کړه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا کتاب (په افغانو کورنيو کې د ماشومانو پر وړاندې ورځنۍ تاوتريخوالی) پښتو ته هم را ژباړل شوی دی. د کتاب پښتو متن ۷۸ مخونه لري او د تاوتريخوالي په باب مستند مالومات په کې راوړل شوی دی. دغه راز د تاوتريخوالي د مخنيوي په باب ښې او ګټورې لارښونې په کې راغلي دي.
د کتاب په مقدمه کې دې ته اشاره شوې ده چې ځېرنيز ګروپ په خپلې ځېرنې کې په کورنيو کې د تاوتريخوالي افراطي بڼې يا افراطي بيلګې ثبت نه کړې. د کتاب په لنډيز کې داسې راغلي دي:

«په دغه ځېړنه کې هڅه شوې چې د تاو تريخوالی افراطی او يا غير معمولې حالات راغونډ نشي، بلکې دغه ځېړنه د تاو تريخوالی د ډېر نورمال او طبيعي حالت پورې چې د خلکو د ورځنيز ژوند (ورځنيز تاو تريخوالی) برخه ده، اړه لري.»

د دې پروژې مسؤلينو حتماً ځانته د ځېرنې او موادو د راټولولو ځانګړې اصول لرل چې خپل کار به يې د هغو پر بنسټ پرمخ بيوه. ښايي د همدغو اصولو پر بنا د کتاب ليکوالې، په کورنيو کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالی په دوو برخو وېشلی وي، هغه هم داسې:

«په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تريخوالی په دوو برخو وېشل کيږي: تاو تريخوالی چې د انضباط او يا سزا په ډول تري کار اخستل کيږی او تاو تريخوالی چې د غوسې، تشويش او يا ناامیدۍ له کبله د مرتکب لخوا ترسره کړې. دا څرګنده ده چې په حقيقت کې د دغه دوه ډوله تاو تريخوالی ترمنځ ښايي تداخل موجود وي، سره لدې، د تحليلي وضاحت په موخه په دوه برخو ويشل ګټور کار دی.»

ښايي دا ويش د اروپايي اصولو او تجربو پر بنسټ شوی وي، خو زما ځېرنې، د سترګو ليدلی حال او شته اسناد ښيي چې د افغانستان غونډې يوې ټولنې کې چې له ډېرو اړخونو له نورو هيوادونو او ټولنو سره ورته والی نه لري، د تاوتريخوالي نور ډولونه هم موجود دي چې په نورو ټولنو کې يې بيلګې نه شته، داسې تاوتريخوالی چې نور خلک يې لا تصور او اټکل هم نه شي کولای. څو بيلګې يې ما په خپلو مقالو کې په نښه کړي دي، هغه هم په دې ډول:

زموږ د ټولنې عيني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنيانو پر ضد تاوتريخوالی په لومړي ګام کې په دريو برخو بايد و ويشل شي :

## ۱ ــ رواني تاوتريخوالی :

ــ ژبنی تاو تريخوالی،

ــ ډارول،

ــ ښکنځلي کول،

ــ بد رد ويل،

ــ تهديدول، او ډول، ډول نور رواني فشارونه.

## ۲ــ جسمي تاوتريخوالی:

ــ وهل ټکول،

ــ شاقه کارونه،

ــ جګړو ته اړ ايستل.

## ۳ ــ جنسي تاوتريخوالی.

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي دغه ډولونه چې ما په نښه کړي دي، ښايي نيمګړي به وي، خو اساسي برخې يې همدا دي چې هره برخه يې بيا ښايي په څانګو هم و ويشل شي چې له بده مرغه موږ ته او زموږ ټولنې کې يې ميراثي بڼه غوره کړې ده.

د پنځمې برخې پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ